نورمحمد لاهو

۲۰۲۳/۰۹/۱۰

# یو سیوري او څو شګې

سپوږمۍ زه هم ستا په خیر شوم
ورځ په ورځ یوازې کیږم
لکه هغه غریب غر چې یوه باد یې کاڼي وړي
اوس له خپلو یو څو شګو سره ناست دی
په خپل بې وخته مړه شوي درانه سیوري پسې ژاړي
+ + + + +
سپوږمۍ زه هم ستا په خیر شوم
ورځ په ورځ یوازې کیږم
لکه هغه د مرغۍ وروستۍ بچوړی
چې یې مور د چا د ښکار دام کې کیوتې
او دی لاهم منتظر دی
سپوږمۍ زه هم ستا په خیر شوم
ورځ په ورځ یوازې کیږم
لکه هغه ګڼه ونه
چې د مني په موسم کې یې له سره
ژیړ تیکرۍ په ځمکه ولوید
هره پاڼه په ورو ورو ورنه یوه یوه بیلیږي
نو،
اې خدایه!
خدایه!
خدایه!
لویه خدایه!
یو خوږ بوټی یم ګندهیر نه شم داریږم
زه له ډیر یوازیتوبه
ستا په خیر نه شم داریږم





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ